# کله چې تاسو د خپلې پناه غوښتنې په اړه مثبته پریکړه ترلاسه کړی

وروسته له دې چې تاسو د خپلې پناه غوښتنې په اړه مثبته پریکړه ترلاسه کړې مونږ پوهیږو چې تاسو به د فکر کولو لپاره ډیری شیان ولری. پدې کښې ممکن ستاسو د تعلیم پلانونه شامل وي، کار کول یا د هغو خلکو لیدلولپاره تګ کول چې تاسو ورسره مینه لری. **وروسته له دې چې تاسو خپله پریکړه ترلاسه کړی، نو تاسو بیا لږ وخت لری مخکې له دې چې ستاسو د پناه غوښتنې ملاتړ پای ته ورسیږي او دا مهمه ده چې لومړی په دې دریو شیانو تمرکز وکړی.**

## 1. د وضعیت او پیژندنې ثبوت – ستاسو ای- ویزه (eVisa)

- انګلستان د کډوالۍ ډیجیټل سیستم ته حرکت کوي. د 31 اکتوبر 2024 څخه د کورنیو چارو وزارت ,د بایومیټریک استوګنې جواز (BRP) پر ځای د eVisas جاري کول پیل کړل.
- ستاسو eVisa خورا مهم دی. تاسو به دې ته هله اړتیا ولری چې کله یو کار ترلاسه کوی یا د ګټو ادعا وکړئ او یا د اوسیدو لپاره یو ځای کرایه کوی.
- د کورنیو چارو وزارت به ستاسو د مثبتې پریکړې په 14 ورځو کښې دننه ستاسو د انګلستان ویزې او مهاجرت (UKVI) اکاونټ او ستاسو eVisa رامینځته کړي. دوی به تاسو ته د ننوتلو معلومات (لاګ – ان) واستوي چې تاسو پرې خپل اکاونټ او eVisa ته لاسرسی وموی.
- که تاسو د خپل UKVI اکاونټ توضیحات ترلاسه **نکړی**، یا که تاسو خپل eVisa ته د لاسرسي لپاره مرستې ته اړتیا لری، مهرباني وکړی د دوی آنلاین ویب چیټ په کارولو سره د UKVI حل مرکز سره اړیکه ونیسی (www.gov.uk/evisa ته لاړ شی او "که تاسو مرستې ته اړتیا لری" باندی کلیک وکړی) ، یا د مهاجرینو مرستې سره په 07483 170100 لمبر یا evisa@migranthelpuk.org اړیکه ونیسی-
- که ستاسو په eVisa کښې کومه تېروتنه/غلطی شتون ولري، مهرباني وکړی UKVI سره اړیکه ونیسی www.gov.uk/report-error-evisa

## 2. ستاسو پیسی

- کله چې تاسو مثبته پریکړه تر لاسه کړی، تاسو ته اجازه درکول کیږي چې کار وکړی او پیسې وګټی.
- که تاسو کار نشی کولی یا په چټکۍ سره کار ونه موی، تاسو باید د فلاحي ګټو لپاره غوښتنه وکړی (معمولا یونیورسل کریډیټ). تاسو کولی شی آنلاین، یا په شخصي توګه په خپل محلي جاب سنټر پلس کښې درخواست وکړی.
- دا سمدلاسه وکړی ځکه چې دا ستاسو د تادیاتو ترلاسه کولو دمخه یو څه وخت نیسي.
- که تاسو BRP نلری، تاسو ګولی شی خپل د پناه غوښتنې مثبتې پریکړې لیک او ARC کارټ د فلاحي ګټو غوښتنی لپاره وکاروی.
- تاسو به د بانک اکاونټ پرانیستلو ته هم اړتیا ولری.

## 3. ستاسو کور

- کله چې تاسو مثبت پریکړه تر لاسه کړی، تاسو کولی شی د خپل استوګنځي په لټه کښې شی او خپل یو کور ته کډه وکړی.
- تاسو کولی شی د خپل لوکل کونسل څخه د مرستی(چېرته چې تاسو ژوند کوی او پریکړه تر لاسه کړی) لپاره غوښتنه وکړي. که تاسو عموما صحتمند یاست او که تاسو ماشومان نه لری چې ستاسو سره ژوند کوي، تاسو ته به د لومړیتوب په سترګه ونه کتل شي او دوی به تاسو ته د استوګنې وړاندیز ونه کړي. دا مهال د هرچا لپاره د کونسل کور او د کونسل د استوګنې سخت کمښت شتون لري.

## Housing ABC

**A** لومړی- دا ومنی چې لومړی ځای چې تاسو پې ورمی ممکن یوازې لنډمهاله وي. دا ممکن کوچنی، ګډ یا لنډمهاله استوګنځی وي او په هغه سیمه کښې نه وي چیرې چې تاسو غواړی ژوند وکړی.

**B** بل - کله چې تاسو یو څه ګټه او/یا دنده ولری، تاسو کولی شی د کراېې لپاره یو ښه ځای وګوری چې هغه څه ته نږدې وي چې تاسو یې غواړی، مګر بیا هم دغه ارزانه وي. شیان لکه انګلیسي ټولګي او د کارموندنې ملاتړ به تاسو سره پدې کښې مرسته وکړي.

**C** وروسته – بیا د یو آرامه کور په لټون پسې کار وکړی چیرته چې تاسو غواړی د اوږدې مودې لپاره ژوند وکړی.

SCAN ME

ستاسو په سیمه کښې د مرستې په اړه د نورو معلوماتو لپاره، د ویب پاڼې پرانیستلو لپاره د خپل ټلیفون کیمره په دې **QR** کوډ باندې په نښه کړی.

RSMP NORTH WEST REGIONAL STRATEGIC MIGRATION PARTNERSHIP

boaztrust